مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۴ / ۰۲ / ۱۰

# عشق او درناوی

ځوک يي په سره کمربند مبين شو[۱]
ځوک يي يوازې د زلفو په ول کې بند پاتې دي
ځوک يي د تګ قدمونه شمېري[۲]
چا يي ونه، سروه وبلله
ځيني يي د لباس په ستاينه زړه ته تسل ورکوي
ځوک يي تصوير په جيب کي ګرځوي او په نيمه شپه کې پرې زړه ټکوروي
چا يي يوازې سترګې يادې کړې او نورو يي د بدن بله برخه!
د بدن د برخو د ستاينې په سيالۍ کې له ډېرو انساني درناوی هېر شو!
د ستاينو ډېرى برخه په عشق او غريزې راټولې دي. دلته د درناوی برخه يا نشته، يا ډېره کمه لېدل کېږي.
پر در ناوی، د عشق او غريزې پياوړتيا، زموږ د انساني ودې کچه په ګوتو کوي!
ترڅو چې د عشق سره درناوی نه وي ملګرى، موږ هلته د عشق نه بلکې د غريزې خبره کوو.
موږ لا تر اوسه د عشق، غريزې او درناوی ترمنځ مناسب تنا سب ته نه يوو رسېدلي!

**يادوونه:**

[۱] اېټالوی مشهور شاعرFrancesco Petrarca ته اشاره ده. ويل کېږي چې هغه Laura نومې چې پرې مبين شوى وو، په لومړي ځل په سره کمربند کې لېدلی وه. وروسته يي د هغې په اړه ۳۶۶ شعرونه وويل.

[۲] يوه ټپه کې وايي: په قدمو دې خدايي مبين کړم
ما ته په لويه لار کې واخله قدمونه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ